# هیواد
ورځپاڼه


# د څرخي پله زندان کې د نبوي سیرت او د اسلامي تاریخ سیالیو پر یو شمېر ګډونوالو جایزې ووېشل شوې

د څرخي پله بندخونه کې د ۴۵۰ تنو محبوسینو ترمنځ د سیرت نبوي او اسلامي تاریخ سیالۍ، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت اړوند د بیهقي کتاب خپرولو ریاست او د زندانونو چارو د سمون اداري په ګډې همکارۍ تر سره شوې. یادې سیالۍ چې له تېرو پنځلسو ورځو راهیسې پیل شوې وې، د پنځلسو ممتازو زده کوونکو په بریالیتوب پای ته ورسېدې . په دې اړه راټولې شوې غونډې ته په وینا کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو مرستیال مولوي حیات الله مهاجر فراهي وویل: زندانونه په اوس وخت کې د بندیانو لپاره د زده کړو پر مرکزونو بدل شوي دي چې دوی ته په کې دیني، عصري او حرفوي زده کړې ورکول کېږي. زندان د امتحان ځای دی او څوک چې د کوم جرم په اساس راوستل کېږي، له وخته دې په استفادې علم، حرفه او دیني زده کړې ترلاسه کړي. د نوموړي په وینا: اوس د پخوا په څېر بندیان له ستونزو سره مخامخ نه دي، ستونزو ته یې رسېدنه کېږي او له حقوقو څخه یې نه بې برخې کېږي. په ورته مهال د زندانونو چارو ۳مخ

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | چهارشنبه د شعبان المعظم ۲۷مه ۱۴۴۶ق کال | د کب ۸ مه ۱۴۰۳ ل کال | د فبروري ۲۶ مه ۲۰۲۵م کال | خصوصي ګڼه ۵۵۴ مه | پرله پسې ګڼه ۶۴۴ مه ، اتمه دوره

## مجاهد:
# له ګاونډیو او د سیمې هیوادونو سره د اسلامي امارت تعامل ورځ تر بلې پراخېږي

سره له دې چې د اسلامي امارت حکومت پر رسمیت نه دی پېژندل شوی، خو له ګڼ شمېر سیمه ییزو او ګاونډیو هیوادونو سره تعامل لري.د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد وایي: هڅه یې کړې چې له ټولو هیوادونو سره ښې اړیکې ټینګې شي او تعامل یې پیاوړی وي. مجاهد زیاتوي، اوس مهال له ګڼ شمېر سیمه ییزو هیوادونو سره ښې اړیکې لري .دغه راز مجاهد وایي: د بهرنۍ سیاست د اړوندې دستګاه د هڅو په پایله کې اوس د سیمې او ګاونډیو هیوادونو سره اقتصادي تعاملاتو ته زمینه برابره شوې. مجاهد زیاتوي: د افغانستان د حکومت ۳مخ



## د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر:
# د افغانستان او جاپان اړیکې د صداقت او باور پر بنسټ جوړې شوې

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر الحاج ملا خیرالله خیرخواه په خپل کاري دفتر کې پرون د جاپان له سفیر تاکایوشي کوروماېا سره په داسې حال کې ولید، چې د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي هم شتون درلود. په پیل کې ښاغلي کوروماېا د هغو پروژو په اړه معلومات شریک کړل چې جاپان یې په افغانستان کې فعالیت ترسره کوي.هغه د افغانستان لپاره د جاپان د شپږ میلیونو ډالرو ۳مخ



# سږکال د ۱۱۱ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د انجیر شېره بهر ته صادره شوې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت چارواکي وایي، د روان کال تېرو لسو میاشتو کې د ۱۱۱ میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت بهرنیو هیوادونو ته څه باندې زر ټنه د انجیر شېره صادره شوې ده.د دې وزارت ویاند اخندزاده عبدالسلام جواد وایي: دغه صادرات ازبکستان، ایران، هند او متحده عربي اماراتو ته شوي دي. ((د روان ۱۴۰۳ لمریز کال په تېرو لسو میاشتو کې له افغانستانه بهر د ۱۱۱ میلیونو ډالرو په ارزښت ۱۱۹۵ ټنه د انجیر شېره ازبکستان، ایران، هندوستان او متحده عربي اماراتو ته صادره شوې ده.)) په ورته وخت کې د انجیرو شمېر پلورونکي او پېرېدونکي وایي: انجیر هغه مهال خپله بیه او ارزښت پیدا کوي، چې بهر ته صادره شي او ۳مخ



# په دوبۍ نړیوال نندارتون کې له بهرنیو شرکتونو سره هوکړه لیکونه لاسلیک شول

یو شمېر سوداګر چې د هېواد په استازیتوب یې د دوبۍ په نړیوال نندارتون کې ګډون کړی، وایي چې په دغه نندارتون کې د افغانستان کورنیو تولیداتو د نړیوالو پېرونکو پام ځان ته واړولی دی.د نندارتون یو تن ګډونوال مسعود رحماني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د هرات د تولیداتو لپاره ۸ ځانګړې غرفې جوړې شوې وې، چې په کې د وطني محصولاتو هر ډول وچه مېوه، زعفران او د بېلابېلو انرژیو تولیدات نندارې ته وړاندې شوي وو. نوموړي زیاته کړه، چې د هېواد تولیداتو نه یوازې د نړیوالو پېرونکو پام ور اړولی، بلکې له یو شمېر نړیوالو شرکتونو سره سوداګریز هوکړه لیکونه هم لاسلیک شوي دي.



# فاریاب کې د ۱۴ پروژو او کانالونو د جوړولو چارې بشپړې شوې

د فاریاب ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسؤلین وایي، چې د دغه ولایت په شپږو ولسوالیو کې د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د اوبو لګولو په برخه کې د ۱۴ پروژو او کانالونو د جوړولو چارې بشپړې شوې دي. د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس مولوي جانمراد وقار باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د دغه ولایت په قیصار، المار، پښتونکوټ، خواجه سبزپوش، دولت اباد او شیرین تګاب ولسوالیو کې د ناروې هیواد په مالي ملاتړ ۳مخ

# غزني کې ۶۰ روغتیايي مرکزونه فعال شوي

د غزني ولایت د عامې روغتیا ریاست مسؤلین وایي، چې د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۱۸۰ روغتیايي مرکزونه فعال دي، چې شاوخوا ۲ میلیونه کسانو ته روغتیايي خدمات وړاندې کوي.د یاد ولایت د عامې روغتیا رئیس ډاکټر نذیر زرګ څېرګ باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې له یادو مرکزونو څخه ۶۰ مرکزونه د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو راهیسې فعال شوي دي، چې د ښار ترڅنګ د لرې پرتو سیمو خلکو ته هم روغتیايي اسانتیاوې برابروي. نوموړي وویل، د غزني اوسېدونکو د یادو روغتیايي مرکزونو له فعالېدو خوښي څرګنده کړې او وایي، چې د دې مرکزونو په فعالېدو سره د روغتیايي ستونزې کمې شوې دي.



# هرات کې د یوه خیریه بنسټ له لوري معیاري ښوونځی جوړ شو

په هرات ښار کې د پسران خواني تجارتي شرکت له لوري یو میلیون ډالرو په لګښت د ارمنو او یتیمو ماشومانو لپاره یو معیاري لومړنی ښوونځی جوړ شوی دی. د یاد شرکت مسؤل فیض احمد خواني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې اوس مهال په یاد ښوونځي کې ۵۰۰ نجونو او هلکانو ته د زده کړو زمینه برابره شوې ده.نوموړي زیاته کړه، چې په دې ښوونځي کې به زده کوونکو ته د عمومي زده کړو ترڅنګ تخنیکي او مسلکي زده کړې هم ورکړل شي.په ورته وخت کې د هېواد د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستیال محمد یونس مهمند د یاد بنسټ نوښت وستایه او ویې ویل، چې د افغانستان پرمختګ د خلکو د پوهې د کچې له لوړولو او د اکاډمیکو مرکزونو له جوړولو سره تړاو لري. ۳مخ



# د لوګر د ټرانسپورټ مدیریت نږدې ۱۱میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي

د لوګر ولایت د ټرانسپورټ مدیریت مسؤلین وایي، چې د روان ۱۴۰۳ کال په تېرو یوولسو میاشتو کې نږدې ۱۱میلیونه افغانۍ عواید راټول کړي دي.د یاد مدیریت د تنظیم لوی مدیر مولوي محمد عمر روحاني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دا عواید د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې د دوو بندرونو او دوو ټرانسپورتي تمځایونو له لارې راټول او د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.نوموړي زیاته کړه، چې اوس مهال ۳مخ

# سعودي عربستان د پولیو له منځه وړلو لپاره ۵۰۰ میلیونه ډالره مرسته کوي

د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) وایي چې سعودي عربستان په افغانستان او پاکستان کې د پولیو د له منځه وړلو او د هغې د بدلو شویو بڼو له امله د رامنځته شویو ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي لپاره ۵۰۰ میلیونه ډالره ځانګړې کړي دي.دې ادارې په اعلامیه کې ویلي، چې د سعودي عربستان چارواکو، د نړیوال روغتیا سازمان عمومي رئیس، د یونیسف اجرائیوي رئیس او ځینو نورو چارواکو ترمنځ یې تړون لاسلیک شوی دی.ویل کېږي چې دا بودیجه د سعودي عربستان له خوا د ۲۰۲۴ کال په اپریل کې په ریاض ۳مخ




# ننګرهار کې پر ۴۲جریبه ځمکه د مالټو بڼ جوړېږي

د ننګرهار وادي کرنیز اماراتي شرکت مسؤلین وایي، چې د دغه ولایت د کانال ریاست اړوند ۴۲ جریبه شاړه ځمکه اباده شوې او د ۳ میلیونه افغانیو په لګښت پرې د مالټو بڼ جوړېږي.د یاد شرکت رسنیز دفتر باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې ۳مخ






## څرنګه بریالي کېدلی شو؟!

بریـا د هر فرد او ټولنې د پرمختـګ له مهمو هدفونو څخه ده. په ژونـد کې د بریا ترلاسـه کولو لپاره دوه اسـاسي شرطونه ډېر مهم دي: اول، پرله پسـې هڅې او عمل او دوهم، د وخت په سمه توګه اداره او تنظیـم. دواړه فکتورونه یو له بله جلا نه دي، بلکې یو پر بـل تکیه کوي او په ګډه د فرد پـه پرمختګ او بریا کې مهم رول لوبوي.هېڅکله هم بریا په اسـانۍ سره ترلاسـه کېدونکی مفهوم نه دی. د خپلو اهدافو د ترلاسـه کولـو لپاره باید په هره برخه کې هڅه او کوښښ وشي. د زده کړې، کار او حتی د شخصي پرمختګ په برخو کې دوامداره هڅـې د بریا ضمانت ګڼل کېږي. کله چې یو فرد خپلـې وړتیاوې او مهارتونه لوړ کړي، نو په هره سـتونزه کې بـه د حللارې د پیدا کولو توانمندي لـري. د هڅې په ډګر کې باید ځان ته اهداف وټاکل شي او د هغو د ترلاسـه کولو لپاره پلان جـوړ شي. همدارنګه له تېروتنو او ناکامیـو څخه زده کړه او پر ځان باور درلودل د بریا لپاره بنسـټیز عوامل دي.

وخـت د ژوند له ټولـو مهمه منبع ده او په سـمه توګه اداره کول یې د بریا لپاره حیاتي ارزښـت لري. که څه هم د کوښـښ او هڅو اهمیـت ډېـر دی، خـو د وخت له مناسـب تنظیم پرتـه دا هڅې اغېزناکې نه تمامېږي. د وخت سـم مدیریت انسـان ته دا توانایي ورکـوي چې د ورځنیـو فعالیتونو لپـاره لومړیتوبونه وټاکي او د بې ځایـه ضایع کېدو مخه یې ونیسي. د منظـم مهالوېش جوړول، د کارونـو ترتیب او د هدفمنـدو فعالیتونو تعقیب لـه هغو مهمو ګامونـو څخه دي چـې په پایله کـې د فرد د بریا سـبب ګرځي.

د وخـت په مدیریت کـې، د موخو او فعالیتونو تـر منځ همغږي او نظم سـاتل د سـتونزو د حل او د بریالیتوب ترلاسـه کولو لپاره ضروري دي.پـه پای کې ویلای شـو چې بریا یـو منظم پلان او د دوامـداره هڅې نتیجـه ده. که څه هم له کوښـښ او هڅې پرته د پرمختـګ تصور هم سـتونزمن دی، خو د وخت سـمه اداره او تنظیـم دا هڅې په عملي او ګټور بدلون بدلوي.

په هره سـاحه کـې، که تعلیمي، کاري یا شـخصي ژوند وي، د دې دوو مهمو اسـبابو رعایتول نه یوازې د بریـا لاره هواروي، بلکې انسـان تـه د ژوند په هـره برخه کـې د پرمختـګ فرصتونه هم برابروي.

# اقتصادي جهاد؛ د افغان ملت د ځان بسیاینې لاره

**رحمت‌الله فیضان**

که موږ د مسـلمان پـه توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سـیرت او سـنتو تـه مراجعه وکړو، وبه وینو چې تجارت او اقتصادي وده د نبـوي تعلیماتو یـو مهم اصل دی او د اسـلامي ټولنې د پرمختګ بنسـټیز رکن ګڼل کېږي.

رسـول اللـه صلـی اللـه علیه وسـلم له بعثت څخـه وړاندې په مکه کـې د «امین» په توګه پېژندل کېده او د شـام او یمن سوداګریزو سفرونو کې به یې ګـډون کاوه. د ده صادقانـه او شفاف تجارت د خلکو باور تر لاسه کړی و. د تاجرانو د مقام په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

ژباړه: «رښـتونی او امین تاجر بـه د قیامت په ورځ له انبیاوو، صدیقانـو او شـهیدانو سره وي»(ترمذي).

دا حدیـث د تاجـر هغه سـتر اخروي مقام بیانوي چې صادق او امین تاجران به یې ترلاسـه کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تل د اسـلامي امت پر اقتصادي ځان‌بسـیاینې ټینـګار کاوه او مسـلمانان یـې کار او تولید ته هڅـول. د مدینې په دوران کې یې یو خپلواک بازار جوړ کړ، تر څو مسـلمانان د یهودیانو له اقتصادي تسـلط څخه خلاص شي.د افغانستان اسلامي امارت، چـې د رسـول الله صلـی الله علیه وسلم د سیرت او سنتو پر بنسـټ ولاړ او را منځته شوی دی، اقتصـادي وده، تجارت او ځان‌بسـیاینه له خپلو اساسي موخـو څخـه ګڼـي. دا نظام د هغـو زرګونـو مجاهدینو د قربانیـو محصـول دی چـې د خپلواکۍ، امنیت او سـوکالۍ لپاره یې وینه تویې کړې ده.

اسـلامي امـارت تاجرانـو او پانګوالـو تـه د «اقتصـادي مجاهدینو» په سـترګه ګوري، ځکـه هغـوی د هېـواد د ځان‌بسـیاینې او اقتصادي ودې لپاره نه سـتړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

افغانسـتان له ۴۰ کلونو اوږدو جګـړو، مهاجرتونـو، دوو اشـغالونو او یـوې کورنـۍ جګـړې څخه تېر شـوی دی. اوس چـې هېـواد خپلواکـي ترلاسـه کـړې او امنیت ټینګ شوی، د بیارغونې لپاره مناسب فرصتونـه رامنځته شـوي دي. له همـدې املـه، زمـوږ ټولو مسـئولیت دی چـې د هېـواد پـه پرمختګ کـې فعال ګډون ولرو.د عزیزي بنسټ له لوري د سرطان د ۴۰۰ بسـتریز تخصصي روغتون، د ۲۰۰ بسـتریز نسایي او ولادي روغتـون، د طبـي کادرونو د روزنـې، د لیلیې او اسـتوګنځایونو د جوړولو لپاره د ۳۵۰ جریبه ځمکې اخیسـتل، چـې ټولیز ارزښـت یـې ۵۰۰ میلیونـو ډالرو ته رسـېږي، یو بې‌سـاری او د ستاینې وړ اقدام دی.

دا پـه داسـې حال کـې ترسره کېږي چې زرګونه افغانان هره ورځ د درملنـې لپـاره ګاونډیو هېوادونـو ته سـفر کـوي او میلیونونـه افغانـۍ لـه هېواده وځـي. د دغو طبـي مرکزونو جوړېـدل نه یـوازې د خلکو اړتیـاوې پـوره کـوي، بلکې د هېـواد پانګـه هم لـه ضایع کېدوڅخه ژغوري.

همـدا راز عزیزی ګروپ د ۱۰ میلیـاردو ډالرو په ارزښـت د یو پنځـه کلن پروګـرام د پیل کولـو ژمنه کوي، چـې تمرکز یې د انرژۍ تولید ته دی. د دې پروژې لومړنـی ګام، د کابل د ۲۰۰ میګاواټـه لمریزې برېښـنا فابریکـه ده او په ټـول هېواد کې د ۱۰,۰۰۰ میګاواټه برېښـنا د تولیـدي ظرفیـت لرونکـو لسـګونو نـورو فابریکـو د جوړېـدو خبره شـوې چې دا اقـدام نـه یـوازې د دوامداره انـرژۍ د تأمیـن لپـاره حیاتي دی، بلکـې د خلکـو لپـاره د کارموندنـې، اقتصادي ثبات او بنسـټیزو پرمختګونو لپاره هم مهم رول لري.

اوسنی افغانسـتان د تجارت او صنعت لپاره له ټولو غوره بستر دی، ځکه چې:

» مالي فساد له منځه تللی دی.

» د فسـاد جزیرې محوه شوي دي.

» سرتاسري امنیت ټینګ شوی دی.»حکومـت د اقتصـادي ودې لپـاره د پانګوالو ترڅنګ ولاړ دی.د دې پرمختګونـو په رڼا کې، افغانسـتان اوس له بل هر وخته زیـات د تاجرانو او متشـبثینو ملاتړ تـه اړتیا لري. اوس د دې وخـت رارسېدلی چـې د پانګونـې او تولیـد له لارې، هېـواد د اقتصادي ودې، ځان‌بسـیاینې او عامه سوکالۍ پر لور سوق کړو.

# ننګرهار کې د وچو مېوو کاروباریان له مسئولینو ځانګړې مارکېټ غواړي

په ننګرهار کې د وچو مېوو یو شـمېر کاروباریان او سـوداګر وایـي، د مېـوو د پروسـس او بسـته بندۍ لپاره د مناسب ځای او وسـایلو د نشـتوالي له امله، ګڼو سـتونزو سره مخ دي.دوی زیاتوي، حکومـت دې د نورو ولایتونـو په څېر پـه ننګرهار کې هم د وچو مېوو د پروسـس او بسـته بندۍ لپاره یو مناسب مارکېـټ جوړ او د سـوداګرو په واک کې دې ورکړي.د وچو مېوو کاروباري محمد یار وایي: (( موږ دلتـه د وچې مېوې لپاره



ځانګـړی مارکېټ نـه لرو. له حکومته غوښتنه کوو ،چې موږ تـه مارکېـټ او ځانګړي ځای راکړي. موږ غواړو خپلې مېوې همدلته پروسـس او بسته بندي کړو او بیا یې نـورو هېوادونو ته واسـتوو.))ځایي مسئولین بیا د دوی ستونزو او غوښتنو ته په پام وایي: هڅه کوي چې د وچو مېوو د کاروباریانو او سوداګرو ستونزو ته رسـېدنه وکړي او د کاروبـار د پرمختـګ لپاره یې نورې اسانتیاوې هم ورته برابرې کړي.د دوی په خبره: اوس مهال د صنعت او سـوداګرۍ وزارت داخـلي تولیداتـو تـه د بـازار موندنې او د سـوداګرو د ملاتړ په موخـه پر یو شـمېر عوضي توکو تعرفـه هم لوړه کړې ده.د ننګرهار د صنعت او سوداګرۍ ریاست د سوداګریزو چارو آمر شاکرالله ستانکزی وایي: (( موږ هڅه کوو د دې ځای محصولات نور هم سـتندرد او معیاري شي او بیا نـورو هېوادونو ته صادر شي. مـوږ په هغو مشـابه مېوو مالیـه لوړه کړې ،چـې له نورو هېوادونو راځـي، ترڅو داخلي صنایع تقویه او ښـه فروشـات ولري.»ننګرهـار، لغمان، کونړ او نورسـتان هغـه ولایتونه دي چې د وچو مېوو ډېر حاصلات تـرې ترلاسـه کېږي. د دې ولایتونو **۳مخ**

۳مخ

## خلیلزاد:

# د پاکستان اقتصاد او پوځ له بد وضعیت سره مخ دي

د افغانسـتان د سـولې لپاره د امریـکا پخوانـی ځانګـړی استازی زلمی خلیلـزاد وایـي: د پاکستان پـوځ او اقتصـاد له ټولو نـاوړه حالت تجربـه کوي.نومـوړي دغه څرګندونـې د فایننشـل ټایمز ورځپاڼـې هغه راپـور ته په غبرګون کې کړې، چې په کې د پاکستان د پوځ له خوا د دې هېواد په اقتصـاد کې په لوړه کچه د لاسوهنو یادونه شوې. خلیلزاد پـه اقتصاد کې د پوځ مداخله د یـوه ناوړه وضعیت ښـکارندویې بولي او زیاتوي: د یاد ناوړه وضعیت له امله له پوځ څخه د امنیـت ټینګولو په تړاو خپـل ماموریت پاتې دی.

**خلیلزاد زیاته کړې:**

**(( پـوځ د پاکسـتان پر سیاست او حکومت واکمن دی. د فایننشـل ټایمـز پـه وینـا، دوی د هېواد اقتصاد پـه خپل لاس کې اخلي. البته دوی د امنیت مسـئولیت لري. پایله دا ده چـې درېـواړه په بد حالت کې دي. پوځ باید اصلاحـات راولـي او پر هغه څه تمرکز وکړي، چې د دوی اصلـي ماموریت دی.))**د سـیاسي چارو شـنونکی طارق فرهادي وایي: (( د پاکسـتان سـتونزه دا ده، چې نفوس یې په ډېره چټکۍ وده کوي، یعنـې د دې امکان شـته ،چې له ۲۶۰ میلیونو تنو هم تېر شـوی وي او تر ۲۸۰ میلیونـو تنـو رسـېدلي وي. پاکسـتان د امریـکا په طرف صادرات لري ،چې د ولسمشر ټرمپ له خوا د تعرفو لوړولو پـه جنګ کـې ښـایي زیان ووینې. د پاکسـتان صادرات تر ډېره د نساجۍ محصولات دي. همدارنګـه چیـن چې له پاکسـتان سره یې مرسته کوله، د خپلـو مرسـتو پـه اعظمي حـد کې دی او نـه غواړي له دې ډېر پاکسـتان سره مرسته وکړي، نو ویلي شو ،چې دغو اقتصادي فشـارونو ته په کتو، په پاکسـتان کې د یوه تغیر تمه کېدای شي.))د سـیاسي چارو شـنونکي د پاکستان د اوسني اقتصادي وضعیت په اړه وایي، په دې هېـواد کـې اقتصادي سـتونزې بـه نـه یـوازې د پاکستان خلک اغېزمن کړي؛ بلکې سیمه ییزې ناوړه اغېزې به هم ولري. د سـیاسي چارو شـنونکی کمال ناصر اصولي وایي: (( د پاکسـتان بې ثباتي حتمـاً د دوی د وګـړو په ګټه نه ده، خو د یو شمېر ګاونډیو هېوادونـو او پـه ځانګـړې توګـه د هغـو هېوادونـو په ګټه ده چې پاکسـتان په تېرو ۵۰ کلونـو کې د هغو نظامونه نړولي او سـیاسي بـې ثباتي یې رامنځته کـړې. دا ځکه چې افغانـان بـه د دوی لـه شره خلاص شي. په عمومي توګه د سیمې د خلکو په ګټه ده، خو د پاکستان په ګټه نه ده؛ ځکه پاکسـتان په سیمه کې داسې رول لوبـولي، لکـه یـو زهر پاشـونکي هېـواد. دوی هر وخت خپلو ګاونډیانو ته زهر پاشـلي دي.))د اقتصادي چارو کارپوه نورالله عزیز وایي:

**(( کله چې د پاکسـتان د اقتصاد واګـې د پوځ په لاس کې ورشي، دغه کار به د ډېرو خلکو د تشویش ترڅنګ، د ډېرو پانګوالو د پانګونـې ختمېدو او یا هم د پانګونـې د انتقال سـبب وګرځي. کله چې اقتصـاد د پـوځ په لاس کې وي، پـه مارکېټ کې د اُعتماد فضـا کمېږي او ډېـر خلک به له داسـې یوه حالت سـره مخ شي چـې خپلـې پانګونې به نـورو هېوادونو ته انتقال کړي او یا بـه هم په نورو هېوادونو کې د پانګونې د فرصتونـو د لټولو هڅه وکړي.))**

یو شـمېر نـور بیـا د دې کار پایلـې پراخ مـالي فسـاد او سـیاسي بې ثباتۍ تـه د لارې هوارېـدل بـولي او زیاتوي: په دې توګه به پر پاکسـتان د نړیوالو بـاور کم او اقتصادي بحران به یې لا شدید شي. د اقتصـادي چارو شـنونکی یونس ځدراڼ وایي:

**(( د ملکـي حکومـت ناکامـي او دغـه راز د پـوځ واک پراخېدل او د نړیوالو پورونو مدیریت، د تجـارت پر سـکټور هم اغېزې لـري. د دې کار راتلونکـي پایلـې به د اقتصاد دولتـي کېدل، د فساد زیاتېدل، سیاسي بې ثباتي او د نړیوالو د باور کمېدل وي.))**

د پاکسـتان د پوځ له لوري د دې هېـواد د اقتصاد د په لاس کې اخیسـتلو مسـئله داسـې مهـال راپورتـه کېـږي، چې په دې هېـواد کـې اقتصادي وضعیت له وړاندې ښه نه دی او اوس هـم د نړیوالـو پولي او مـالي سـازمانونو او ځینو هېوادونـو له لوري لسـګونه میلیارده ډالره پوروړي دي.

## د سوداګرۍ او پانګونې خونه:

# د تورخم لارې په تړل کېدو سره افغان سوداګرو ته میلیونونه ډالره زیان اوښتی

له تېـرو څو ورځو راهیسـې د پاکسـتان حکومـت د تورخـم لاره د هـر ډول تـګ راتګ او سوداګرۍ پر وړاندې تړلې ده.د سـوداګرۍ او پانګونـې خونې مسـئولین وایـي: د پاکسـتان له خوا د یادې لارې پـه تړل کېدو



سره د دې هېـواد او افغانسـتان ترمنځ سوداګري زیانمنه شوې او پـه پایله کې یې د فرضي کربشـې دواړو خـواوو ته د شـاوخوا ۲ زره ۵۰۰ بـار وړونکو موټرو په ایسـارېدو سره، افغان سوداګرو ته میلیونونه ډالره زیان اوښتی.د دوی په خبره، پاکستان له ایران او هند سره هم سیاسي مشکل لري، خو سوداګري یې عادي روانه ده او د افغانسـتان په څېر ستونزې نه ورتـه جوړوي.د سـوداګرۍ او پانګونـې خونې د مدیـره پلاوي غړي خـان جان الکوزي وایـي: (( دا اوس هـم هره ورځ په نورمال شـکل له ۶۰۰ تر ۸۰۰ موټـر دواړو طرفونـو ته مالونه وړي راوړي او پـه درېیو ورځو کې دا تقریبـاً له ۲۰۰۰ تر ۲۵۰۰ موټرو کېـږي، چې همدا اوس د دواړو خواوو په سرحد کې ولاړ دي. پـه دې سره لاریـو کې بار مالونه خرابېږي، دلته په بازارونو کې قیمتي راځـي. ... په دې کې ټرانزیټي مالونه دي، مېوې دي او خوراکي مواد دي چې خرابېږي او ورسره میلیونونـه ډالـره د افغانسـتان او پاکستان اقتصاد ته زیان رسـېږي.))د افغانسـتان او پاکستان د سوداګرۍ ګډه خونه د ورته ستونزو عمده لامل د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي ستونزې یـادوي او د دواړو هېوادونو له چارواکو غواړي چې دا ستونزې ژر تر ژره لـه ډیپلوماټیکو لارو حل کړي.د افغانستان او پاکستان د سوداګرۍ د ګډې خونې رئیس نقیب الله ساپی وایي: (( ستونزه په بندر کې د دواړو خواوو ترمنځ د اختلافونـو لـه امله رامنځته شـوې. زموږ غوښتنه دا ده چې د دواړو طرفونو له خوا د لارو دغه ډول بندول زیان اړوي، باید بنده نه شي، بلکې هغه سـیاسي مسایل له ډیپلوماټیکو لارو حل شي چې په بندر کې منځته راځي.))

ځینـې نور بیا د نوي ډېلي او کابل د اړیکو نږدېوالي ته په اشـارې وایي: پاکستان تل د ورته مسایلو له امله د کډوالـو او د ټرانزیټي لارو تړل پر افغانسـتان د فشـار راوړلو په توګه کاروي.

دوی لـه همدې املـه د خوندي سـوداګرۍ په موخه لـه افغان حکومته د بدیلو لارو غوښـتنه کوي.

د اقتصـادي چـارو شـنونکی عبدالنصیر رشـتیا وایـي: (( کله چـې د پاکستان په نـوم هېواد جوړ شـو، موږ له هماغه وخته راهیسې پاکسـتان سره ستونزې لرلـې. لېترلېږه تېـرو ۲۰ کلونو کـې تر دا نن پـورې هرکله چې له پاکسـتان سره زموږ سـیاسي اړیکې خرابېږي، هغوی سرحدي او ټرانزیټي سـتونزې جوړوي. مهاجرین او بندرونه **۳مخ**

۳مخ

# افغان اعلانات

## اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی تهیه وتدارک(۸٤)قلم مواد تحکیمات صحرایی ضرورت قطعات وجزوتام های قول اردوهای ۲۰۳ منصوری ۲۰۹ الفتح ۲۱۷ عمری وفرقه ۲۱۹ عمر ثالث اردوی ملی برای سال مالی ۱٤۰٤ بادرنظرداشت محلات تحویلدهی نوع قرارداد:بالمقطع روش(داوطلبی بازداخلی). شماره داوطلبی: وزارت دفاع ملی -۱۴۰۴-اجناس-۲۵۲۲۰۰۰۴، اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

آدرس ومدت اخذشرطنامه:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه اطاق نمبر(۲۰۹)ازتاریخ نشراعلان الی بیست ویک یوم تقویمی به روزهای رسمی ازشروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/سافت (CD)اخذوهمچنان همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را ازویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند .شماره تماس(۰۲۰۲۶۱۲۰۷۹).

تضمین آفر: مبلغ تضمین آفر بشکل گرانتی بانک قرار اخذ میگردد.

| شماره لات | جزوتام های مروبوطه | مقدار مبلغ | واحد پولی |
|---|---|---|---|
| ۱ | لات اول ۲۰۳ منصوری | ۳۵۰,۰۰۰ | افغانی |
| ۲ | لات دوم ۲۰۹ الفتح | ۳۱۹,۰۰۰ | افغانی |
| ۳ | لات سوم ۲۱۷ عمری | ۳۲۰,۰۰۰ | افغانی |
| ٤ | لات چهارم ۲۱۹ عمر ثالث | ۳۰۰,۰۰۰ | افغانی |
| | مجموعه چهار لات | ۱,۲۸۹,۰۰۰ | افغانی |

نوت : تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.
ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار افر باشد, یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبارمی باشد.
روش تدارکات وزبان:داوطلبی بازداخلی(دری وپشتو).
ضرب الاجل تسلیمی آفرها:ازتاریخ نشر اعلان الی قبل ازساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر ضرب العجل آفرگشائی. آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.
ضرب الاجل آفرگشائی:ازتاریخ نشراعلان به روز(۲۲)تقویمی ساعت(۱۰)قبل ازظهر.
محل آفرگشائی:ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشائی.
نوت:ازداوطلبان محترم خواهشمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده وهنگام تسلیمی آفراسناد توانمندی مالی وسایراسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه راتسلیم نمایند.

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی گل باز ولد میرویس یک عراده موتر پلیت ۲۹۷۷۳ بس کابل نوع تیوتا هایس بس خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حفیظ الله فرزند عسکر خان بفروش رسانیده است.بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۵۰۰

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم احمد ساحل فرزند بریالی ولدیت محمد اکبر دارنده نمبر جواز۵۳۲۰ مورخ ۱۴۰۲ /۶/۷ رهنمای معاملات ساحل حیدری واقع ناحیه ۱ شاروالی کال خواهان فسخ جواز خویش می باشد که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۹۴۹۶

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم سید طیب ولد سید جعفر ولدیت سید عبدالله جان دارنده تذکره شماره ۱۶۴۸۹۹۹۱ج ق ۱۳۸۳ ص ۵۸ ث ۲۸۹ وکیل شرعی امتیاز دواخانه بیگ جان زاده واقع ولسوالی آقچه ولایت جوزجان طی در خواستی به مقام محترم معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض وخواهان فروش امتیاز دواخانه موکل خویش بالای محترم عبدالسلام ولد محمد سعید خان ولدیت میرزا حلیم نظرخان دارنده تذکره نمبر ۳۰۸۷۳۰ ج ق ۱۳۸۹ ص ۱۴۸ ث ۷۲۶ مسکونه اصلی ولایت جوزجان گردیده است.اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۹۴۹۰

### اطلاعیه به کرایه دهی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی مساحت ۵۰ متر مربع یکباب دکان واقع کمپ شمال میدان هوایی بین المللی کابل را به منظور فعالیت سوپر مارکیت به اجاره می دهد .اشخاص حکمی و حقیقی که خواهش به اجاره گرفتن مساحت متذکره را به طور مزایده داشته باشند ، از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۱۰ روز درخواستی های خویش را به آمریت املاک و خدمات وزارت ترانسپورت و هوانوردی واقع انصار وات بسپارند . شرطنامه دربدل ۳۰۰۰ افغانی بدون باز پرداخت برای متقاضیان توزیع میگردد.۹۵۰۱

### اطلاعیه

سه جلد سته شامل (فروشی، کرایی، گروی)

دفتر رهنمای معاملات نعیم سادا به اسم محمد نعیم سادات به اسم محمد نعیم فرزند زلمی ولدیت نسصر الله واقع ناحیه۲ شاروالی کابل مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۹۴۹۲

### اطلاعیه انتقال مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمای معاملات عبدالله سبحان االندری به اسم محترم اختر محمد فرزند محمد آجان ولدیت سیدگل واقع مقابل سلطان تاور ناحیه ۳ موقعیت دارد و می خواهد به ساحه مقابل لسیه حبیبیه ناحیه ۶ شاروالی نقل مکان نماید.۹۵۱۷

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود اداره ملی حفاظت محیط زیست در نظر دارد، قرارداد پروژه تهیه اجناس و خدمات مورد ضرورت بخش لابراتوار تحت شماره داوطلبی (007/NEPA/RCB/G/1403) را به شرکت الفا اکسپرت لوژستیکس دارنده جواز نمبر (١٦٤٨٨) آدرس چهارراهی پروان سوم حیدری مارکیت ناحیه ۴مرکزکابل، کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۲۰۲۹۰۵۰)دومیلون و بیست و نوهزار پنجاه افغانی اعطا نماید.اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تدارکات اداره ملی حفاظت محیط زیست وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود اداره ملی حفاظت محیط زیست در نظر دارد، قرارداد پروژه تهیه اجناس برای تصدیق نامه خاص فلتر دود و کارت محیط زیستی برای وسایط فاضلاب و زباله ها تحت شماره داوطلبی (005/NEPA/RCB/G/1403) را به شرکت خدمات تکنالوژی هنری زون دارنده جواز نمبر (۷۹۰۰٦) آدرس مارکیت حمادی ناحیه ده هم مرکزکابل، کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۱۳۵۱۰۰۰)یک میلون و سه صدو پنجاه ویک هزار افغانی اعطا نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که در زمینه اعتراض داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تدارکات اداره ملی حفاظت محیط زیست وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل معیاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

### ننګرهار کې د وچو ...

د مېوې کاروباریان او سوداګر ټینګار کوي چې همدلته ننګرهار کې ورته د پروسس او بسته بندۍ لپاره اسانتیاوې برابرې شي.

### د تورخم لارې...

د فشار هغه وسیلې دي چې تل د افغانستان پر وړاندې ترې ګټه اخلي. په دویم قدم کې، موږ اړتیا لرو چې افغانستان ته د وارداتو بدیل پیدا کړو، یعنې دا چې هغه توکي د هېواد په داخل کې تولید او د افغانستان د مارکېټ اړتیاوې پوره کړو ، چې موږ یې دا مهال له پاکستان څخه واردوو.))دا په داسې حال کې ده چې پاکستاني ځواکونو ادعا کړې ،چې د اسلامي امارت ځواکونو د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه نظامي تاسیسات جوړول او دوی د دې کار په غبرګون کې له افغانستان سره د تورخم لاره د هر ډول تګ راتګ پرمخ تړلې ده.

### امیدوارم جنګ...

تا ایالات متحده به مواد معدنی مهم اوکراین که در فنآوری کلیدی استفاده میشوند، دسترسی پیدا کند.

### غزه کې د یخنۍ ...

چې د غزې په جنوب کې ۹۰ سلنه ودانۍ ویجاړې شوي او شاوخوا ۲۰۰ زره خلک له سرپنا پرته ژوند کوي.نوموړې په دې برخه کې له اړوندو ارګانونو غوښتې چې د ژغورنې په برخه کې د فلسطیني خلکو لاسنیوي وکړي.

### امنیت شورا د ...

چې لـه دې وړاندې ډونالډ ټرمپ د اوکراین له ولسمشر زیلنسکي غوښتي و، چې له روسیې سره جګړه کې د امریکا د مرستو په بدل کې دې د دې هېواد نایابه کاني زېرمې د امریکا په واک کې ورکړي.

### له ګاونډیو او ...

او هېوادونو ترمنځ د تعامل لمن ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې ده.ده څرګنده کړه: (( د افغانستان اسلامي امارت خپلې ټولې هڅې کړي چې د سیمې او لرې هېوادونو سره تعاملات ښه او پیاوړي وي، همدارنګه د سیمې له هېوادونو سره زموږ اړیکې فوق العاده ښې رواني دي. د اسلامي امارت د ډیپلوماسۍ په هڅو دا نتیجه مرتبه شوې او نورو هېوادونو ته دا اطمینان حاصل شوی، چې له افغانستان سره اقتصادي راکړې ورکړې ته زمینه برابره کړي. ازبېکستان ته د یوه لوړ پوړي پلاوي په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا برادر اخوند سفر یې ښه بېلګه ده. زموږ تعاملات ښه روان دي او ورځ تر بلې لا پیاوړي کېږي.)) سیاسي کارپوهان بیا وایي: د سیمې ترڅنګ مهمه داده ،چې له نړیوالو سره هم تعامل رامنځته شي او د افغانستان او نړۍ ترمنځ په متقابل درناوي او ګډو ګټو ولاړې اړیکې جوړې شي.د سیاسي چارو کارپوه شهزاده مسعود وایي: (( په اوسنیو شرایطو کې موږ ته بېخي لازمه ده ،چې د سیمې لـه هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره د یوه مثبت تعامل له لارې خپل سیاسي روابط جوړ کړو. اړتیا ده ،چې موږ باید لومړی له خپلو ګاونډیانو سره او بیا لـه ټولې نړۍ سره د متقابل احترام پر بنیاد، داسې چې زموږ ملي ګټې په کې خوندي وي، باید دا روابط جوړ شي.))ځینې نور بیا په دې باور دي چې له نړۍ سره د رسمي اړیکو نه درلودل په مستقیم ډول د عام ولس پر اقتصادي ژوند اغېزه لري او په رسمیت پېژندنې سره د خلکو په ژوند کې مثبت بدلون منځته راځي.د سیاسي چارو شنونکي ادریس محمدي ځاځي وایي: (( د افغانستان د رسمیت پېژندنې مسئله یوه مهمه مسئله ده. د دې مثبتې او منفي اغېزې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه پر عام ولس اغېزې لري. د عام ولس لپاره د اسلامي امارت له خوا رسمیت او مشروعیت ترلاسه کول ضروري او لازمي دي؛ ځکه د ولس اقتصاد، تجارت او اړیکې په همدې مشروعیت پورې تړاو لري.))په ټوله کې باور دا دی، چې ازبېکستان هېواد ته د رئیس الوزراء د اقتصادي مرستیال ملاعبدالغني برادر اخوند وروستی سفر د دې ښکارندویي کوي ،چې د افغانستان او سیمې هېوادونو ترمنځ مثبت تعامل موجود دی، خو د سیاسي چارو شنونکي غوښتنه کوي چې باید د حکومت رسمیت پېژندنې ته لا زیاته پاملرنه وشي.اوس مهال لسګونه هېوادونه په افغانستان کې فعال سفارتونه لري او همدا راز نږدې ۴۰ هېوادونو کې د افغانستان سیاسي نمایندګۍ فعالې دي.

### سرکال د ۱۱۱میلیونو...

پـه نړیوال بازار کې وپلورل شي.په بلخ ولایت کې د انجې یو تن سوداګر جان ګل خیبر یـې په اړه وایي:(( د انجې د بیې د لـوړوالي یو مهم لامل دا دی، چې بهر ته یې صادرات پراخ او ډېر شي. که ملي سوداګر یـې بهر ته انتقال کړي؛ نو خلکو تـه هم د کار زمینـه برابرېږي.))په همدې حال کې د بلخ د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسئولین وایي: سرکال یوازې له بلخ ولایت څخه هند تـه ۸۵۰ ټنه انجه صادره شوې ده.

### فاریاب کې د ۱۴پروژو ...

د ۲ میلیونه ۳۹۴ زره او ۴۶۶ افغانیو په لګښت د اوبولګولو پـه برخه کې د ۱۴ پـروژو او کانالونـو د جوړولو چارې بشپړې شـوې دي.ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د یادو پروژو په پلي کېدو خوښـي ښـودلې او وایـي، چې د دغو پـروژو پر مـټ به یې د کرنـې په برخه کې د اوبو شـته ستونزې حل شي.

### هرات کې د یوه ...

د یادونـې وړ ده، چې دا خیریه بنسـټ پـلان لري، چې په راتلونکي کې شـاوخوا ۴ زره کسـانو ته د زده کړو زمینه برابره کړي.

### د لوګر د ټرانسپورټ ...

د یو ترمینل د جوړولو لپاره د ځمکې برابرولو چارې روانې دي او همدارنګه، د شـته تمځایونو د کرایو د تطبیق څارنه، د باربرې تمځي جوړول او د څرخ ولسوالۍ او پکتیا ولایت لپاره د مسـافر وړونکو موټرو د تمځـي تنظیم هم تر کار لانـدې دي.د نوموړي په وینا، د لوګر په التمور سـیمه کې د تېرې پارک لپاره هم ۲۰۰ جریبه ځمکه ځانګړې شـوې ده، چې د ټرانسـپورټي خدمتونو د لا ښه والي لپاره به ګټور تمام شي.

### ننګرهار کې پر...

دا ځمکه د یـاد شرکت د څلورم فارم په لومړي بلاک کې موقعیت لري، چې له کلونو راهیسـې شاړه وه او اوس د مالټو د بڼ لپاره چمتو شوې ده.یاد بڼ به د صافي مومند کرنیز شرکت له لوري د شـپږو میاشـتو په موده کې جوړ شي.د کانال ریاست د مسئولینو په وینا، دا پروژه د ځمکو د سمې اسـتفادې، د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي او بزګرانو ته د عوایدو د لوړولو لپاره مهم ګام بلل کېږي.مسئولین زیاتوي، چې په راتلونکي کې به د کانال ریاست اړوندې پاتې نورې شاړې ځمکې هم ابادې او د استفادې وړ وګرځوي.

### سعودي عربستان ...

کې د نړیوال اقتصادي فورم د یوې ځانګړې غونډې پرمهال ځانګړې شـوې وه. په بیان کې ویل شوي ،چې د پولیو د له منځه وړلو نړیوال نوښـت او د هغې شریکان به هر کال د واکسین په مرسـته له پولیو څخه د ۳۷۰ میلیونو ماشومانو په سـاتنه کې همکاري وکـړي او د دې وایروس لېږد به د تل لپاره ودروي. افغانسـتان او پاکسـتان پـه نړۍ کې دوه هیوادونه دي چې لا هم پکې پولیو له منځه نه ده وړل شوې او لاهم د ماشومانو د فلج کېدو سبب کېږي.

### فراه رود ولسوالي...

چې د دې ځانګـې جوړېدل د کندهار – هرات لویې لارې د مسـافرو او موټر چلوونکو لپـاره ډېر مهم دي، ځکه له دې وړاندې د ترافیکي پېښـو پر مهال د اور لګېدو له امله خلکو ته ځاني او مالي زیانونه اوښتي وو.

### دځرخي پله زندان ...

د سـمون اداري د دفـتر رئیس مولوي رحمـت الله ګلزار وویل: مـوږ له چا سره د قوم او ژبې په اسـاس تعصب نه لرو، دا زموږ دنده ده چې د دوی ژوند په ښـه ډول تېر شي، نو د محبوسینو لپاره ښه فرصت دي چې د دیني، عصري او حرفوي زده کړو په ترلاسه کولو یې تېر کړي.د بیهقي کتاب خپرولو ریاست د قرآن کریم د لیکلو آمر مولوي عزت الله عابد وویل: د نبوي سـیرت مطالعه د انسان فکري، عقیدتي او د ژوند برخو په رغولو کې حیاتي رول لري تر څو انسان یې پـه اړوند معلومات ولري، په ژونـد کې یې عملي کړي او انسـان د الله ج په لور بیایي. همداشان سیرت انسان له خیانت، دروغو او بـد اخلاقۍ څخه ژغوري، ځکه چې د نبـي کریم ص د اخلاقو نمونه ده او په خپله دا رایادوي چې مسلمانان په یو اتفاق واوسي.همدارنګه د زندانونو چارو د سـمون اداري د توقیف خونې رئیس محمد ګل جیګرخون وویل: محبوسـین له موږ سره بندیـان نه بلکې مېلمانه دي، دوی ته د ذوق مطابق سـهولتونه برابر شـوي دي، موږ یې خادمان یو او داسې څوک نشته چې ور سره ظلم شوي وي او یا وهل شـوي وي، له تعصب پرته ورته مسـاوي حقوق رسېږي، هڅه مو همدا ده چې بندیان له بندخونې وروسته ټولنې سر د ښـو خلکـو په څېر یو ځـای شي. د زندانونو چارو د سمون اداري د تعلیم، تجدید او تربیې رئیس مولوي نظر محمد ناصري وویل: محبوسـینو ته د اسلامي نظام له غوښـتنو سره سـم په بندخونه کې دننه عقیدتي خدمتونه، عصري زده کړې، حرفـوي زده کړې او د ورزش خدمتونه وړاندې کېږي تر څو محبوسین ترې برخمن شي. محبوسینو ته د بیهقي کتاب خپرولو ریاسـت له لوري د مطالعې زمینه برابره شـوې ده او د ټولو محبوسینو لپاره د تفسیر، دیني او عقیدتي زده کړې د روژې په میاشـت کې هم پیل کېږي. د اسلامي امارت پر افغانسـتان له بیا ځلي واکمنۍ وروسته د هېواد ټول زندانونه د مدرسو او پوهنتونو په مرکزونو بدل شوي دي چې بندیان ترې خپلو کورونو ته په دیني، عقیدتي، حرفوي او عصري زده کړو سـمبال سـتنېږي. زیارمل هوتک

### د افغانستان او جاپان ...

مرستې په اړه معلومات ورکړل، چې دوه ورځې وړاندې د یو ان اچ سي آر (د ملګرو ملتونو د پناه ورکوونکې اداری) د بې ځایه شویو کورنیو او بېرته راستنېدونکو کډوالو لپاره لاسلیک شـوې وو؛ ده همدارنګه زیاته کړه چې دا مرستې د زیانمنو شـویو برخو د جوړولو لپاره دي.ښاغلي کورومایا د هغه شـېږ کسیز پلاوي چې د ملي موزیم رئیس هم شتون پکـې درلود، په اړه راپـور وړاندې کړ، چـې څو ورځې مخکې د ساسـاکاوا بنسټ په رسمي بلنه جاپان ته تللي وو، چې یاد پـلاوي د فرهنګي میراثونو د څېړنې انسـتیتیوت او د توکیـو د میراثونـو فرهنګي اداري څخـه لیدنه کړې وه، نوموړي هیله څرګنده کړه چې دا سـفر به د فرهنګي میراثونو پـه برخه کې د لا پرمختګ لامل شي.ورپسـې د اطلاعاتـو او فرهنګ وزیر الحاج مـلا خیرالله خیرخواه دوی ته تر ښه راغلاسـت ویلو وروسته وویل د افغانستان او جاپان اړیکې په تاریخي توګه مثبتې دي ،چې د صداقت او باور پر بنسـټ جوړې شـوې دي او د هغه پلاوي سفر چې تـازه جاپان ته تلـلي وو، د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د فرهنګي اړیکـو د پراختیا پیل وګڼلو، خیرخواه صاحب د جاپان له خوا د فرهنګي میراثونو د سـاتنې په همکارۍ ټینـګار وکړ او د جاپان هېواد علاقـه یې په دې برخه کې مهمه وبلله.

همدارنګه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي په خپلو خبرو کې د فرهنګي میراثونو په اړه د ښـوونیزو پروګرامونو او سـیمینارونو د جوړولـو په اړه یادونـه وکړه او د دغـه ډول پروګرامونو جوړول یې د تاریخي آبداتو په اړه د خلکو د عامه پوهاوي لپاره مهم وګڼل؛ ښـاغلي عزیزي د ملي موزیم، بالاحصار او منـار جام په اړه خبرې وکړې او لـه جاپان څخه یې د دې تاریخـي ځایونو د بیارغونې پر اړتیـا ټینګار وکړ. په پای کې دواړو لوریو د فرهنګي اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا په برخه کې ټینګار وکړ.

### سټنډرډ اداري د انرژۍ ...

نـو ضایع کول یې د ودانیزو او بنسـتیزو چـارو لپاره یوه سـتره ننګونه ده.په همدې اسـاس د انرژۍ د ښه مدیریت او پراختیا په منظور، د مشـورتي، لېبل لګونې، تفتیش او د انرژۍ مدیریت بنسټ (لېمه) سره، د ګډې همکارۍ تفاهم لیک لاسلیکوو، چې پر بنسـټ به یې د انرژۍ د ضایعاتو دکمولو او د ملي سـټنډرډونو د تطبیق برخه کې پرمختګ رامنځته شي.مـلا فیض الله تمیم له اړوندو ادارو څخه هیله کـړې، چې د پریکړه لیک د پلي کېدو په برخه کې له موږ سره بشپړه همکاري وکړي.نوموړي زیاته کړه: موږ په دې باور یو چې د حکومتي ادارو او تخصصي بنسټونو ترمنځ، ښه همکاري او همغږي د هېواد د پرمختګ او ځان بسیاینې سبب ګرځي.د ښاغلي تمیم په وینا: که له انرژۍ څخه د ګټې اخیستنې برخه کې سټنډرډونه له پامه وغورځول شي، نو د انرژۍ ضایعات به زیات، لګښتونه به یې لوړ او چاپېریال ته به جدي زیانونه متوجـه کړي.ملا فیض الله تمیم وویل: د ګـډې همکارۍ دا پریکړه لیک به د انرژۍ د مصرف او مدیریت برخه کې مهم او اسـاسي رول ولوبوي.د سټنډرډ ملي اداري رئیـس زیاته کړه؛ موږ به د ګـډو همکاریو له لارې د انرژۍ د مدیریـت علمي معیارونه جوړ او کیفیت به یې لوړ کړو.دغه راز دولتي او خصوصي سـکتورونه به وهڅوو چې د انرژۍ سـپما ته پاملرنه زیاته کړي.نوموړي همداراز وویل: د سـټنډرډونو په واسـطه کولی شو ،چې د محصولاتـو او خدماتو کیفیت لوړ کـړو او د انرژۍ له ضایعاتو څخه مخنیوي وکـړو.د دې پریکړه لیک پر مټ به په جوړو شـویو او نویـو جوړېدونکـو ودانیو کې د انرژۍ د حفظ او ضایعاتو د مخنیوي سـټنډرډونو د تدوین او پلي کېدو برخه کـې دوه اړخیزه همکاري پیاوړې کړو. پـه ودانیو کې د انرژۍ د ضایعاتـو د مخنیوي لپاره، له ملي او نړیوالو سټنډرډونو څخه په استفادې د تحقیقاتي پروژو ترسره کول او په دې برخه کې د متخصصینو روزل، د اړتیا وړ علمي اسنادو او مدارکو تدوین او تالیف، په ودانیو کې د انرژۍ تحفظ د مشـخص کود ایجـاد او په ودانیو کې د انرژۍ د ضایعاتو د مخنیوي سـټنډرډ د کاري پروسې په اړه د متخصصینو د ظرفیت لوړول؛ د یاد هوکړه لیک له موخو څخه دي.

### ښکلي هنرونه د فرهنګي ...

ته منسوب نه کړي او د افغانسـتان ملکیت دي ومني.دغه راز د یونامـا د بـشري حقونو د چارو مـشرې فیونا فرزر ویـلي دي: (( موږ خوشـحاله یو ،چې په افغانسـتان کې د ښـکلو هنرونو لپاره لا هم کار کېـږي او په دې برخه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هڅې سـتایو. )) هغې زیاته کړې چې یوناما د افغانسـتان د فرهنـګ، هنر او تاریخي میراثونو سـاتنې او پرمختګ ته ژمنه ده او دریغ یې په دې برخه کې تل د افغانسـتان د هنرمندانـو ملاتړ او د هنرونو د ودې لپـاره اړین ګامونه اخیسـتل دي.د هغې په وینا: یاد سازمان د افغان هنرمندانو لپاره د نړیوالو فرصتونو برابرولو لپاره کار کوي، څو د افغانسـتان فرهنګـي وده او نړیوال شـناخت پیاوړی شي.د تخلیقي ځواک د هنرونو نندارتون چې پکې د شـاوخوا ۶۰ هنرمندانو ۲۰۰ هنري آثار ننداره ته وړاندې شـوي دي؛ د اوو ورځو لپـاره به د لیدونکو پر مخ پرانیستي وي.

### سمنګانو کې ۱۸۵۷ ...

غځـول او د ۴۰۰ مترو په اوږدوالي د برښـنا د مزو غځول شـامل دي.د نوموړي په وینا، د یادې پروژې په بشـپړېدو سره به د یادو ولسـوالیو په ده کلان، ده اصل، لنګر سـفلي، سردشت علي خېل، نوآمد عالي خېلو او برعلي خېلو کلیو کې ۱۸۵۷ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شي.د یادونې وړ ده، چې د دې پروژې د پلي کېدو پر مهال لسـګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس : انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: س ۲۵۲۶۳۴۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

چهارشنبه د شعبان المعظم ۲۷ مه ۱٤٤٦ق کال د ۱٤۰۳ ل کال د کب ۸ مه د 2025 م کال د فبروري ۲۶ مه

# سټنډرډ اداري د انرژۍ د مدیریت برخه کې له یوه مشورتي بنسټ سره هوکړه لاسلیک کړه



د افغانستان سټنډرډ ملي اداري د انرژۍ مدیریت په برخه کې د ودانیو لپاره له یوه مشورتي بنسټ سره هوکړه لاسلیک کړه.
په دې اړه جوړو شویو مراسمو کې د سټنډرډ ملي اداري مسئولینو وویل: دا د نظام یوه مهمه اداره ده او تل یې هڅه کړې، چې د علمي او تخنیکي معیارونو په ترویج سره، خپلو هېوادوالو ته د ښه اقتصاد او هوسا ژوند زمینه برابره کړي. د سټنډرډ ملي اداري رئیس ملا فیض الله تمیم وویل: دا چې انرژي د یوه هېواد د ځان بسیاینې او پرمختګ برخه کې مهم رول لوبوي، ۳مخ

## سمنګانو کې ۱۸۵۷ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرېږي

د سمنګانو د کلیو د بیا رغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په خرم سارباغ او کوز دره صوف ولسوالیو کې د اوبو رسولو د ۶ شبکو د جوړولو چارې پیل شوې دي.
د یاد ریاست مطبوعاتي مسئول ثمرالدین شاهرخي باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دا پروژه د ۳ میلیونه ۴۲۲ زره ۴۳۹ افغانیو په لګښت د ایکو دفتر په مالي ملاتړ پلي کېږي.
نوموړي زیاته کړه، چې په دې پروژه کې د اوبو زېرمې جوړول او بیا رغونه، د ۶ وال بکسونو جوړول، د ۶۳ نلکو نښلول، د ۲۵۵۰ مترو په اوږدوالي د اوبو رسولو شبکې ۳مخ

عتیق الله عزیزي:

## ښکلي هنرونه د فرهنګي ارزښتونو د پراختیا لپاره حیاتي رول لري

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرستان ریاست په هڅو او د یوناما، ستاره ګان او مشعل اکاډمۍ په همکارۍ، د تخلیقي ځواک د هنرونو ننداړتون ورمه ورځ په کابل کې پرانیستل شو.
د یاد ننداړتون په پرانیست غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي ویلي، چې ښکلي هنرونه یوازې د فردي خلاقیت څرګندونه نه کوي، بلکې د ټولنیزو او فرهنګي ارزښتونو د ساتلو او پراختیا لپاره هم حیاتي رول لري.ده زیاته کړه ،چې ننداړتونونه د خلکو ترمنځ د اړیکو پراخولو، د نوې پوهې ترلاسه کولو او د بېلابېلو فرهنګونو په اړه د فهم زیاتولو وسیله ګرځېدلې او د ښکلو هنرونو له لارې انسانان کولی شي




خپل احساسات او افکار په نویو لارو وړاندې کړي؛ کوم چې د ټولنې د فرهنګي پرمختګ لپاره مهم دي.د عزیزي د څرګندونو له مخې؛ میناتوري او خطاطي د افغانستان دوه تلپاتي هنرونه او ویاړونه دي ،چې علامه کمال الدین بهزاد یې نوښتګر دي، نړیوال سازمانونه او په ځانګړې توګه یونسکو باید دغه هنرونه نورو هېوادونو ۳مخ

## د سالنګ لویه لاره د ټرافیکو پرمخ تړل شوې



د ټولګټو وزارت خبر ورکړی، چې د ورمې شپې له ۲ بجو وروسته د سالنګ لویه لاره د شدیدې واورې د اورښت، طوفان، د لید ساحې د محدودیت او د انساني او مالي زیانونو د مخنیوي په موخه په موقتي ډول تړل شوې.
وزارت ویلي، چې هېوادوال دې تر بلې خبرتیا پورې په دې لارې د تګ راتګ هڅه نه کوي او اوس مهال دغه لاره د ټولو مسافر وړونکو او بار وړونکو وسایطو پرمخ په لنډ مهالي ډول تړل شوې.
د یاد وزارت ویاند محمد اشرف حق شناس زیاته کړې، چې د دې لویې لارې د ساتنې او څارنې ریاست کارکوونکي چمتو دي چې د هوا له ښې کېدو سره سم د واورو د پاک کارۍ عملیات ترسره او لاره بېرته د ټرافیکو پرمخ پرانیزي.
د یادونې وړ ده، چې له ورمې شپې راهیسې په سالنګونو او ځینو ولایتونو کې د واورو او بارانونو د اورښت څپه پیل شوې.

## کندهار کې د یوه چکډیم د جوړولو چارې پیل شوې

د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالۍ د برغني په کلي کې د یوه چکډیم د جوړولو پروژې چارې د ۲ میلیونه، ۱۵۴ زره او ۱۰۱ افغانیو په لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژي د رئیس ملا سید محمد شرافت، علماوو او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې.ښاغلي شرافت د نوموړي چکډیم د چارو په پرانیست غونډه کې اړین معلومات له ګډونوالو سره شریک کړل او د اوبو د غوره مدیریت په هکله یې خبرې وکړې.دغه چکډیم د ۱۰۷ متره په اوږدوالي او ٤.٥ متره لوړوالي سره د افغانستان د اسلامي امارت په مالي لګښت د کندهار ولایت د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې جوړیږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې ۷۰۰۰ متره مکعبه اوبه زېرمه شي.په دې پروژه کې یو شمېر خلکو ته د کار زمینه چمتو شوې او چارې به یې د درېوو میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

## د لغمان د چرګانو فارمونو کې ۸۰۰ تنو ته د کار زمینه برابره شوې

د لغمان ولایت د چرګانو د فارم لرونکو اتحادیې مسئولین وایي، چې په دغه ولایت کې د چرګانو ۲۲۹ فارمونه جوړ شوي، چې په کې ۸۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.
د یادې اتحادیې مسئول ډاکتر حبیب الله نیازي د دې اتحادیې په غونډه کې وویل، چې د یو شمېر سوداګرو په مالي ملاتړ د ۸۰ میلیونه افغانیو په لګښت دا فارمونه جوړ شوي، چې په هره ۴۰ ورځنۍ دوره کې شاوخوا ۶۱۸ زره ۴۰۰ چرګان بازار ته وړاندې کوي.په ورته وخت کې د لغمان د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس مولوي عبدالستار محمد د اتحادیې د فعالیت له پیل څخه خوښي وښوده او ویې ویل چې دوی به د اتحادیې له غړو سره د همکارۍ تر څنګ د هغوی ستونزو ته پر وخت رسېدنه وکړي.دغه راز د یاد ولایت د اقتصاد رئیس مولوي جان محمد حامد وویل چې د دې فارمونو له لارې سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.نوموړي له نورو سوداګرو هم وغوښتل، چې په لغمان کې پانګونه وکړي، ترڅو د ډېرو خلکو لپاره د کار زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده، چې د دې فارمونو تولیدات نه یوازې د لغمان په بازارونو کې پلورل کېږي، بلکې نورو ولایتونو ته هم صادرېږي.




## فراهرود ولسوالۍ کې د اور وژنې څانګه فعاله شوه

د فراه ولایت د اور وژنې آمریت له لوري په فراهرود ولسوالۍ کې د اور وژنې څانګه فعاله او د ځایي مسئولینو په شتون کې پرانیستل شوه. یاد ولایت د اور وژنې آمر ملا خیرالدین وثیق باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دغه څانګه د ۱۵ میلیونه ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت فعاله شوې، چې یو مجهز اور وژونکي موټر، اووه تنه پرسونل او نور اړین تجهیزات لري.وثیق زیاته کړه، ۳مخ

# بهرني لنډ خبرونه

## امنیت شورا د اوکراین جګړې د پای ته رسولو لپاره پرېکړه لیک تصویب کړ



امنیت شورا د اوکراین جګړې د پای ته رسولو لپاره پرېکړه لیک تصویب کړ. دغه پرېکړه لیک چې د امریکا له لوري وړاندې شوی و، د روسیې او اوکراین ترمنځ د جګړې د پای او د سولې د ټینګښت غوښتنه په کې شوې.یاد پرېکړه لیک ته د رای ورکولو پروسه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۵ غړو په شتون کې وشوه ،چې ۱۰هېوادونو مثبته رایه ورکړې او ۵ هېوادونو له رای ورکولو ډډه کړې.اروپایي هېوادونو ،چې له روسیې سره خبرو کې د اوکراین دولت څنډې ته شوي د امریکا حکومت له نوي دریځه اندېښنه ښودلې او د امنیت شورا جلسه کې یې د روسیې پر وړاندې د اوکراین په نه تسلیمېدو ټینګار کړی.امریکا داسې مهال د اوکراین جګړې د پای هڅې کوي، ۳مخ

## غزه کې د یخنۍ له امله ۳ماشومانو ژوند له لاسه ورکړی

اناډولو ترکي اژانس وایي، اسرائیل غزې ته د بشري مرستو د ورتګ مخنیوي کوي ،چې له امله یې ورمه ورځ د یخې هوا له کبله درېوو فلسطیني ماشومانو خپل ژوند له لاسه ورکړی.اژانس غزه کې د خپلو سرچینو په حواله زیاته کړې، غزه کې د سختې یخنۍ له امله د ګڼو ماشومانو ژوند له ګواښونو سره مخ دی او هلته یې د بشري مرستو د رسولو غوښتنه کړې.تسنیم ایراني اژانس غزه کې د اصدقاء المریض خیریه روغتون د ډاکټر سعید صلاح په حواله



ویلي، غزه کې د یخنۍ وهلو ماشومانو عمرونه له یوې تر درېوو ورځو دي.په ورته مهال غزه کې د رفح ښاروال احمد الصوفي ویلي، ۳مخ

## ترمپ: امیدوارم جنگ اوکراین پایان یابد

دونالد ترمپ، رئیس جمهور امریکا، در دیدار با امانوئل مکرون، رئیس جمهور فرانسه، گفته که امیدوار است جنگ اوکراین پایان یابد.رسانه‌های بین‌المللی، گزارش داده اند که این دیدار در سومین سالگرد تهاجم نظامی روسیه بر اوکراین و در سفر مکرون به واشنگتن انجام شده است.بر بنیاد گزارش رسانه‌ها، رئیس جمهور فرانسه در این دیدار هشدار داده که ((بسیار مهم)) است هر گونه توافق احتمالی با مسکو به منزله تسلیم‌شدن برای اوکراین نباشد.رئیس جمهور امریکا، افزوده که امیدوار است جنگ اوکراین ظرف چند هفته پایان یابد و ولادیمیر زلنسکی، رئیس جمهور این کشور، به زودی به ایالات متحده بیاید و توافقی را امضا کند ص۳

